# د ایوب صابر په شاعرۍ کښې د قام تصور

# Nationalism in the Poetry of Ayub Sabir

Faqir Muhammad Faqir*

**Abstract**

A group of people live together have same language, culture, civilization, tradition and brotherhood called a nation.

In this article I discussed the spirit of nation and nationalism of famous nationalist poet Ayub Sabir. He have also great spirit of devotion of his country and for all muslim unity. But actually he as great pushtoon Nationalist poet

قوم: Nation د Nasio نه وتلے ټکے دے چې اصل ئې د لاطیني ژبې دے او مطلب ئې پیدائش (To born) دے. خو په اصطلاحي معنو کښې قوم د خپل مفهوم شا ته د معنو وسعت لري. او د قوم په عناصرو کښې یوه ژبه، علاقه، یو ځائې اوسیدل، تهذیب، ثقافت، مذهب او معاشي تړون شامل دي. معاشي سیاسي او معاشرتي هلې ځلې او ځانګړې اقدارو،روایاتو پالنه او د مثالي ژوند ژواک همه رنګونه لري. هره هغه ټولنه چې د هغې وګړي یو بل سره بې غرضه او فطري مینه لري او زړونه ئې د مینې، خلوص او خپلولۍ په جذبه تړلي وي او دغسې د ورووليٰ مرستې، ملګرتیا، جذبې د نورو د پاره نۀ لري څنګه چې خپلو کښې لري.

* Lecturer Pashto Department Islamia College Peshawar.

انټرنېشنل انسائيکلو پېډيا آف سوشل سائينسز ليکي:

A group of people born in same place, whether that place was through of as a few dozen or many thousands squire miles. [۱]

انسائيکلوپيډيا تحريک پاکستان ليکي:

قوم سے مراد افراد کا ایک ایسا گروہ ہے جسکا تعلق ایک ہی نسل سے ہو، جسکی تاریخی، تہذیبی روایات مشترک ہوں ۔ جس کے درمیان لسانی وحدت ہو اور جو انتظامی طور پر متحد ہو۔ [۲]

او اردو انسائيکلو پېډيا فېروز سنز د قوم په اړه داسې ليکي:

اس سے مراد کسی خطے میں افراد کا وہ گروہ ہے جس کا تعلق ایک نسل سے ہو جسکی تاریخی او تہذیبی روایات مشترک ہوں۔ جس کے درمیان لسانی وحدت ہو۔ جو انتظامی طور پر متحد ہوں لیکن ان میں سے کوئی بھی عنصر قوم کی تشکیل میں لازمی نہیں۔ جدید سیاسی افکار اور مملکت تشکیلی عناصر میں قوم اور قومیت اصطلاحیں بے حد اہمیت رکھتے ہیں۔

دا تعريف صحيح د ے خو دا دوېمه حصه چې د مملکت د تشکيل د پاره د اجزاؤ باره کښې ده چې موجودګي ئې ضروري نۀ ګڼي. دې سره اختلاف په دې کېد ے شي چې دغه بنيادونه مضبوط نۀ وي نو يو قام کښې اتفاق او اتحاد ممکن نۀ د ے. کله چې يو وطن کښې ډېر قامونه وي نو اکثريت دا اقليت خيال نۀ ساتي او د انتشار سبب ګرځي. او کله چې تاريخي او تهذيبي روايات مشترک نۀ وي نو بيا د دوي تر مېنځه مضبوط تړون او يو والے نۀ شي پېدا کېد ے. داسې قومونه هم شته چې د هغوي ژبه، روايات او اقدار بيل وي. لکه امريکه او انګلستان چې يوه ژبه انګريزي وائي خو بيا هم يو قوم نۀ د ے.

استالن ليکي :

"انگریز اور امریکی ایک ہی زبان بولنے کے باوجود ایک ہی قوم کیوں نہیں ہیں۔ سب سے پہلی وجہ تو یہ ہے کہ انگریز اور امریکی ایک خطے میں اباد نہیں ہیں بلکہ مختلف خطوں میں اباد ہیں، قومیت کی بنیاد کی تعمیر کرنے اور اُسے مضبوط کرنے کے لئے ضروری ہے کہ لوگ پشت ہا پشت ساتھ رہے ہوں۔ تبھی تو ان کے درمیان مسلسل، مستقل اور طویل تعلقات اور رشتے پیدا ہو سکتے ہیں۔ جو انکو واحد قومیت کے رشتے میں منسلک کر دیں گے۔ "[۳]

د پښتو ژبې مشهور څېړنکار حسېن بخش کوثر د قوم اصلیت داسې ښکاره کوي. دا ټکي مونږ ته د تازي ژبې نه په میراث کښې ملاؤ شوے دے، چې اصلیت ئې قوم دے . په عربۍ کښې د دې لفظ مونډ یز او بنیادي ریښه "قام" دے چې ترې قیام، قوم او اقوام غوندې لفظونه وتلي دي، پرله پسې "قیام" په پښتو کښې ټکاوېدلو ته وائي او "قوام" ټینګېدلو ته وئیلې شي.[۴]

د قیام نه مراد د اوسېدو ځائے دے چې علاقه، مکان، خاوره، زمکه او سیمه ترې نه مراد دے او قوام د ګوړې یا چینو خپلو کښې پېوست شوے ذرو ته وائي . چې مطلب ترې پېوستون، اتفاق، اتحاد، تړون او یو والے دے. اول اول کښې د قوم Nation ټکے د یورپ اوسېدونکو د بهرني یا د ملک د یوې حصې د طالبعلمانو د پاره استعمالولو. د ځنو پوهانو خیال دے چې دا د هغه روماني تحریک هنداره ده چې جرمني او اټلي ئې خپلو کښې سره یو ځائے کړل. د وخت تېرېدو سره دا تحریک د پسمانده او کمزورو ملکونو د مزاحمت او هلو ځلو په شکل کښې په ځانګړي انداز کښې راڅرګند شو. د زورورو ملکونو د اقائیت او استحصال په وجه د کمزورو اولسونو کوټلي اقدار تاریخ، رسم و رواج، تهذیب او ثقافت ته خطره پېښه وه او اکثر به د ژبې علاقې نسل او مذهب په بنیاد د ناانصافۍ ښکار کېدل. نو د دغې المیې په وجه دې تحریک ته تقویت رسېدو او دغسې پوره زور سره خور شو او په نړۍ کښې ئې نوم پیدا شو.

د ازل نه انسان دخپل قوم او هم جنس سره مینه لري او یو بل سره مرسته، مدد او همدردي د دوئ فطري جذبه ده . کله چې انسانان په غرونو، غارونو کښې اوسېدل او د شمېر په لحاظ کم وو. دغه وخت کښې دوي مختلفو خطرو سره مخ وو او د نورو ځناورو او قدرتي افاتو د مقابلې او تحفظ توان ئې نه لرلو. نو هغه وخت کښې ئې هم یو بل سره نېکې جذبې لرلې او څومره چې د ارتقائي مرحلو نه تېرېدل نو په دغه مشکلاتو ئې قابو هم موندلو او د وطنیت او قومیت دا جذبه ئې هم برقراره ساتلې ده.

د انساني ژوند ابتدائي مرحلو باره کښې حمزه بابا لیکي:

"هغه وخت کښې به د انسانانو ژوند بیخي انفرادي وۀ. خو انسان فطرتاً ځآن ته اوسېدل غوره نۀ ګڼي هغه د نړۍ منتظم دے او دهغۀ په فطرت کښې د تمدن او مدنیت مجردولو استعداد دے کۀ انسان د یو بل سره په ګډه ژوند نه وے کړے، نو هغوي به د ځنګلي ځناورو نه ځان څۀ رنګ ساتلے وے. او چې هغوي د خوراک،څښاک د سامانونو او د جونګړو او غارونو جوړولو د پاره د یو بل سره لاس نۀ کولے نو د هغوي ژوند چرته محفوظ پاتې کېدے شو". [۵]

د اتفاق او اتحاد دا شرف د انسان په برخه رسېدلے دے. نور مخلوق چرې هم دغسې د تړون مظاهره نۀ ده کړې. دا بیله خبره ده چې انسانان کله دېر شول نو د معاش، خوراک، اغوستن او نورو ضرورتونو په وجه خوارۀ شول او د مختلفو علاقو آب و هوا او موسمونو په وجه ددوي په جوړښت، رنګ،عادتونو، رسم و رواج او ثقافت کښې هم بدلون راغلو. او دا منلے شوې خبره ده چې د جغرافیائي بدلون په وجه انسانانو او ځناورو په ساخت او طرز معاشرت کښې هم بدلون راځي. او دغسې مختلف قومونه جوړ شو. او بیا د برترۍ حرص، لالچ او معاشي ګټې د پاره یو بل سره لاس په ګرېوان شوي هم دي.

اسلام هم د قوم او قومیت نفي نۀ ده کړې. که مونږ ګورو نو د ښۀ سلوک، زکات او خېرات په سلسله کښې هم قرآن او حدیث هم د نزدې رشته دارو حق ته ترجیح ورکوي. الله تعالی فرمائي :

إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَانِ وَإِيتَآءِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَاءِ وَٱلۡمُنكَرِ... [۶]

ترجمه: الله تعالی تاسو ته حکم کوي د عدل او د احسان او نزدې رشته دارانو سره د خېر ښېګړې او تاسو منع کوي د بدکارۍ او د ګناه دکار نه

يَسۡأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلۡ مَآ أَنفَقۡتُم مِّنۡ خَيۡرٖ فَلِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ [۷]

ترجمه: تا نه تپوس کوي چې دوي څۀ خرچ کوي د الله په لار کښې اووايه دوي ته هغه مال چې تاسو خرچ کوئ د پاره د مور پلار او د رشته دارانو او د يتيمانانو او مسکينانو او مسافرو او که تاسو څۀ کوئ د خېر الله تعالی عالم دے په هغه باندې.

وَآتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا [۸]

ترجمه: پس ادا کړئ حق د قرابتدارو (رشته دارو) او د مسکينانو او د مسافرو نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه تپوس وشو چې د ښۀ سلوک حقدار څوک دے هغوي و فرمائيل:

امک ثم امک ثم امک ثم اباک ثم الاقرب فالاقرب [۹]

ترجمه: درې ځله پيغمبر (ص) وفرمائيل ستا مور د ښۀ سلوک مستحقه ده بيا پلار او بيا درجه په درجه نزدې رشته داران.

د قرآن او حديث د دې حوالو نه ښکاره ده چې اسلام د خپل خاندان، قوم او نزدې رشته دارانو د حق سبق ورکوي. او هم دا د قوميت دليل دے.

ابوالاعلی مودودي ليکي:

" اللہ اور اللہ کے رسول نے جاہلیت کی تمام محدود مادی، حسی اور وہمی بنیادوں کو جن پر دنیا پر مختلف قومیتوں کی عمارتیں قایم کی گئی تھی ڈھادیا۔ رنگ، نسل،

وطن، زبان معیشت اور سیاست کی غیر عقلی تفریقوں کو جن کی بناپر انسان نے اپنی جہالت و نادانی کی وجہ سے انسانیت کو تقسیم کر رکھا تھا مٹا دیا اور انسانیت کے مادے میں تمام انسانوں کو ایک دوسرے کا ہم مرتبہ قرار دیا۔"[۱۰]

دې کښې هيڅ نشته چې د اسلام په نظر کښې ټول انسانان يو برابر دي خو د قوميت نه انکار ځکه نۀ شي کېدے که چرې مونږه عالمِ اسلام يو قوم اوګڼو نو ددې په مقابله کښې کفر بل قوم دے. داسې نور قومونه لکه عيسايان، يهوديان، هندوان او نور قومونه هم شته.

د مودودي خيال په خپل ځائے خو که غېر مسلمو ته هر څو حقونه حاصل دي نو د مسلمانانو سره ئې امتيازي نخښې هم شته. د دې يو مثال دا دے چې په مسلمانانو باندې د تجارت په سلسله کښې څومره ټېکس دے هغه په کافرو هغسې نۀ دے. د حضرت عمر(رض) په دور کښې هغۀ د يوې مسئلې مطابق دا فېصله کړې وه چې د مسلمانانو ذمي او کافر هربي په مېنځ کښې دې د محصول په مقدار کښې فرق وي. د مسلمانانو د تجارت د مال نه دې څلوېښتمه حصه او ذمي د مال نه دې شلمه حصه او د حربي د مال نه دې لسمه حصه اخستلے کيږي.[۱۱]

د قوم په وجود کښې اهم څيزونه ژبه، رسم و رواج، ثقافت، خاوره،مذهب او معاشي او اقتصادي تړون دے او دا چې په سياسي توګه منتظم او آزاد وي بل دا چې د يو نسل سره تعلق لري او خپلو کښې د اتفاق او اتحاد نۀ شليدونکے تړون او جذبې لري.

د قوميت په عناصرو کښې د ټولو نه اهم يو ځائے اوسېدل دي. ځکه چې دې سره خپلو کښې د زړونو رشتې مضبوطيږي. داسې هم کيږي چې کله کله مختلف قومونه په يو وطن کښې اوسيږي نو بيا هغسې جذبې نۀ وي لکه په برصغير کښې هندوان مسلمانان او نور قومونه شريک اوسېدل خو بيا هم يو قوم نۀ وو. او يهوديان که هر څو خوارۀ وارۀ دي خو د هغوي تر مېنځه د قوميت

رشته موجوده ده دا ځکه چې د دوي مذهب يو دے او دا هم د قوميت عنصر دے نو په ذکر شوې تعريف پوره خيژي.
بل اهم توکے ژبه ده. چې ژبه يوه وي نو هغوي په اسانه خپلو کښې سره تړلي شي او دا جذبه هغوي خپلو کښې يو موټے کوي. د ژبې اهميت باره کښې قرآن کښې الله فرمائي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡ ...

۱۲

ترجمه: او نۀ دے لېږلے مونږه يو رسول هم مګر د خپل قام په ژبې سره چې دوي ته واضحه کړي
بل مشترک تهذيب او ثقافت چې د يو قوم د پاره د يو والي مضبوط بنيادونه جوړوي څومره چې افکار، اقدار، خيالات، علم، ادب، معاشرتي او تاريخي روايات تړلي وي دغه هومره خپلو کښې د قربانۍ، درد او مينې رشته قائمه وي او د دې نه د يو قوم د مخصوص کرداراو نفسياتو پېژندګلو کيږي. د دې نه علاوه تصور، فکر، عقيده، مذهب، اخلاق، اداب، علمي ادبي او روحاني خبرې هم د دې تهذيب او ثقافت حصه وي.
بل څيز ئې ډېر اهم دے هغه مذهب دے . د مذهب په بنياد او نوم قوم ډېر زر راغونډيږي د پاکستان جوړېدل هم ددې مذهب د دو قومي نظريې په وجه ممکن شوي دي. معاشي او اقتصادي تړون هم د قوم او قوميت د پاره ډېر اهم دے. او سياسي مقصد د پاره يو والي ، د مسئلو د حل د پاره هلې ځلې د قوم جوړولو کښې لوئے لاس لري .
د ايوب صابر د قوم تصور:
د ايوب صابر شاعري د پښتو ژبې او ادب په مېدان کښې ډېر ځانګړي رنګونه لري. خو هغه د قوميت رنګونه هم منفرد دي. پښتون قام سره سپېڅلې مينه

همدردي او د پښتني اقدارو، روایاتو ساتنه د هغوي په شاعرۍ کښې اهم مقام لري او خپل پښتون قوم سره مینه د هغوي په ختّه کښې اخښلې شوې ده. نو ورسره د وطن د مینې وړانګې ئې هم ثاني نۀ لري. او د خپل وطن په مینه کښې د هېڅ قسمه قربانۍ نه مخ اړولو ته تیار نۀ دے. او په هر حال کښې د خپل وطن د آزادۍ او عظمت ثنا خواني کوي. د دې نه علاوه د اسلامي ملت خوا خوږي په زړۀ کښې لري او د دین د سربلندۍ د اتفاق او اتحاد یووالي او خپلو کښې د کلک تړون ارماني دے. او غواړي چې اسلام دې په ټوله دنیا کښې سرخرو وي. د دې نه علاوه د هغۀ په زړۀ کښې د انسان او انسانیت د پاره نېکې جذبې او پېرزونې همېشه په غزونو وي. انسان خو لا څۀ چې د همه مخلوق د پاره زړۀ کښې مینه، محبت او د خلوص جذبې لري.

قلندر مومند د ځیګر خون په دیباچه کښې لیکي:

"که چرې د عمراني حالاتو فشارو هغه زېلے نۀ وے نو هغه به هیچرې هم پښتو ته راغب شوے نۀ وے. دې عمراني حالاتو مونږ ټول پښتانۀ کړي یو. او د ایوب صابر شاعرۍ کښے د دې حالاتو ژور لاس دے. هغه ذاتي طور سره رومانیت پسند دے. د خپل چاپېرچل په وجه پښتون دے. او د دې دواړو حقیقتونو په نتیجه کښې هغه یو پوخ انسان دوست دے."[۱۳]

د ایوب صابر په شاعرۍ کښې د قوم پرستۍ نمونې ډېرې دي. دَ صابر صیب په زړۀ کښې دَ قام او خپلې ژبې دَ پاره بې انتها مینه ده . هغه دَ خپل قام او ژبې دَ ترقۍ او پرمختګ دَ پاره شعوري کوشیشونه کوي. او دَ دې اهمیت او افادیت څرګندونه هم کوي. او دَ دغه او خوا خوږۍ په جذبه کښې ځان دَ قام غلام بولي.

قـــام چـــې څـــوک وژنـــي غـــدار وي
چـــې غـــدار وي پـــه دیـــن خـــوار وي
زۀ خواخـــوږے د خپـــل قـــام یـــم

زۀ د هـــــر پښـــــتون غـــــلام يــــم

(ځيگر خون: ص ۲۵۷ )

دَ خپل قام دَ آزادئ، زړۀ ورتيا ، بهادرئ ستائينه کوي او دَ پښتون قوم په دې صفت فخر کوي. چې هر عاصب سره ډغره وهي او دَ چا زور ظلم او غلامي نۀ قبلوي. که هغه هرڅوک وي مغل وي او که انگرېزان يا دَ هغوي نه وړاندې قومونه چې دَ طاقت په نشه کښې ئې دَ جبر لاره خپله کړې وي. او تاريخ گواه دے چې دې خاورې ته کوم قوم دَ اقائيت په نشه کښې راغلے دے ماته ئې خوړلې ده.

اوســه پــورې مــې مغــل وتــه ســر ټيــټ دے
کـۀ بيــا ځــان ورتــه پښــتون کــړم څــه بــه کيــږي

(ځيگر خون: ص ۱۲۴)

چـــې ولاړ يمــــه نـــو غــــر يــــم
زۀ پښـــــتون يمـــــه زړۀ ور يـــــم
زۀ مغـــــل وتـــــه خېبـــــر يـــــم
زۀ انگرېــــزو تــــه لښــــکر يــــم

(ص : ۲۵۹ : ځيگرخون )

دا زمـــا تـــوره چـــې لـــه تـــړې هـــم درنـــه تـــوره ده
دا زمــــا تـــــوره ننگيــــالئ او پښـــــتنه تـــــوره ده

(ځيگر خون: ص ۵۵)

خـــدائے دې وکـــړي چـــې هغــه ســاعت هــم راشــي
چـــې د قـــــام د پـــــاره وکـــــړم غـــــزا

(ځيگر خون: ص ۵۸)

ښـــۀ دې زغملـــے شـــمه
غمــــه افغـــان يمــــه زۀ

(ځيګر خون: ص ۱۰۵)

چـــې غورزنــــګ مـــې اوکـــړو دار تـــه
پښــــتنو د لار پـــــل شـــــوم
زۀ غـــــــلام د اولســــــونو
اولســــونو ســـره مـــــل شـــوم

(ځيګر خون: ص ۱۲۲)

دا سياســت کښــې چــې لعنــت پېــدا شــو
دا چـــې خـــدمت کښــې تجــارت پېـدا شـو
دا چـــې اولـــس اوږے ســـرکار اوږے دے
دا چـــې انســـان د اقتـــدار اوږے دې

(ځيګر خون: ص ۱۲۲)

صابر صيب دَ قام دَ مړانې او نر توب په اړه دَ عمل قائل دے. او کردار له په ګفتار اهميت ورکوي. او کوم قام کښې چې دَ عمل قوت نۀ وي نو بيا کۀ ډېر هم تورزن نو پرېوځي. هغه قوم په دنيا کښې دَ عزت او احترام ژوند تېرولے شي چې دَ ننګ او غيرت خاوندان وي.

نابلــــده چـــې د شــــړنګ د زولنـــو شــــي
د بـــې ننګـــو شــاعري چـــې پـــه ختـــو شـــي

دا خبـــــره ملغلـــــره بيـــــا رښـــــتيا ده
قـــام کـــه ډېـــر هـــم وي تـــورزن پـــه پرېوتـــو شـــي

(ځيګر خون: ص۲۱۴)

پـــرون حجـــره کښـــې يـــو ســـپين ږيـــري مشـــر
وے چـــې د ننـــګ خاونـــدان ښـــۀ يـــادېږي
ګـــورئ زلميـــو چـــې بـــې ننګـــه نـــۀ شـــئ

ننـــګ د پښـــتون د برېـــت وېښـــتهٔ يـــا دېږي

(ځيګر خون: ص۲۱۴)

"خېبر" نومې نظم کښې دَ پښتو دَ رواياتو، اقدارو دَ پالنې دَ خپلې خاورې دَ پاره دَ قربانۍ دَ جذبو يادونه کوي.

دغـــــــه تيــــــــږه پښـــــــــتنه ده

د ځوانـــــــــانو مينـــــــه غـــــــوارې

دغـــــــه تيــــــږه کلـــــــه کلـــــــه

پښـــــــتنو نـــــه وينـــــــه غـــــــوارې

(ځيګر خون: ص ۲۱۹)

او کله چې يو قوم په مجموعي توګه دَ بهادرۍ، غېرت او ننګ ځانګړے انداز لري نو دَ دغه جذبو وړانګې په ټول چاپېرچل خورېږي او دَ بچي بچي په زړهٔ کښې دغه جذبې ځوانې او تاندې وي. او دَ سر ټيټول ئې نهٔ وي زده. هر دښمن ته لکه دَ غر ولاړ وي . دَ صابر صېب په نظر کښې دغه مقام دَ پښتنو دے چې لوئے واړهٔ ئې دَ قام په مينه مست دي.

مـــا وے بچيـــه تـــهٔ خپـــل قـــام پېژنـــې

دهٔ وے د ننـــګ نـــه ډک پښـــتون يمـــه زهٔ

مـــا وے بچيـــه قـــام دې ځـــومره خـــوښ دے

دهٔ وے پـــه قـــام بانـــدې مفتـــون يمـــه زهٔ

مـــا وے چـــې ځـــوک د ســـتا د ســـر دښـــمن وي

تـــهٔ بـــه هغـــهٔ وتـــه خپـــل ســـر ټيټـــوې؟

مـــا وے چـــې ځـــوک د ســـتا د قـــام پـــه مـــرۍ

تـــوره راکـــاږي نـــو څـــهٔ ننـــګ بـــه کـــوې؟

دهٔ وے چـــې پـــلاره د پښـــتون بچـــے يـــم

د هـــر دښـــمن تـــوره بـــه ماتـــه کـــړم

څـــوک چـــې مـــې قـــام وتـــه څـــهٔ بـــد رســـوي

د هغـــــۀ خونـــــه بـــــه ميراتـــــه كـــــړم
(ځيګر خون: ص: ۲۲۱)

صابر صېب په دې فخر كوي چې پښتون اولس كښې پېدا دے او دا ځكه چې دا قام دَ غلامۍ دَ ژوند نه نفرت كوي. او دَ دنيا يو جابر ته هم سر نۀ ټيټوي. صرف دَ يو الله حكم مني او همېشه دَ قام دَ عظمت ثنا خوانه وي. دَ ځان په مقابله كښې دَ خپلو پښتنو ښېګړې او ترقۍ له ترجيح وركوي. په دغه لاره كۀ هر څومره مشكلات راځي په روڼ تندي ئې زغمي. دَ نام و ننګ دَ حفاظت دَ پاره ئې تل توره تر ملا وي. نۀ له مرګه ويرېږي او نۀ له څۀ قسم سختۍ او تكليفونو پروا كوي.

زېـــــرې اے قامـــــه چـــــې بېـــــدار شـــــومه زۀ
زۀ كـــــه غـــــلام وومـــــه ســـــردار شـــــومه زۀ
شـــــكر خدايـــــه چـــــې افغـــــان دې كړمـــــه
څـــــومره پـــــه ښـــــې لاره روان دې كړمـــــه
(ځيګر خون: ص ۲۲۲)

بـــــس دے مـــــا هېـــــر كـــــړۀ د خپـــــل ځـــــان غمونـــــه
اوس بـــــه زۀ خورمـــــه د افغـــــان غمونـــــه
(ځيګر خون: ص ۲۲۳)

زړۀ راتـــــه اووے چـــــې وطـــــن نـــــه ازغـــــي
لـــــرې كـــــړه پورتـــــه شـــــه افغـــــان جـــــوړ شـــــه
(ځيګر خون : ص ۱۲۰)

بـــــس دے مـــــا ځـــــان تـــــه دغـــــه لاره خوښـــــه كـــــړه
بـــــس دے برېښـــــنا مـــــې د تلـــــوار خوښـــــه كـــــړه
اوس حفاظـــــت د نـــــام و ننـــــګ غـــــواړم

زهٔ پښـــــتون شــــوے یـــــم قلنـــــگ غـــــوارم

(ځیګر خون: ص ۲۲۴)

دَ پښتون قام یو ځانګړے خصوصیت دا دے چې دښمن ئې دَ صلحې په غرض په کور کلي راشي هېڅ ورته نهٔ وائي او چې چا له پناه ورکړي نو کهٔ بیا ئې سر ځي یا خاندان ته ئې خطره وي هېڅ پرواه نهٔ کوي. دا دَ دوئ دَ فخر او افتخار نخښه ده.

چـــا تـــه چـــې پنـــاه ورکـــړي پـــرې سرشـــیندي
زهٔ هـــــم د هغـــــې قبیلـــــې غـــــړے یـــــم

(ځیګر خون: ص۲۲۷)

شــــــملې ټیټــــــې لــــــوټې شــــولې نــــابودې
شــــو محـــروم لـــــه افتخـــــاره هـــــر یـــــو ســـــر
بــــې درکــــه دې پښــــتون پښــــتو عنقــــاده
نـــــهٔ اســـــونه شـــــته نـــــهٔ تـــــورې نـــــهٔ لښـــــکر

(ځیګر خون: ص ۲۷۵)

بـــــــــر هغـــــــــه وي چـــــــــې تـــــــــورزن وي
او مئـــــــــین پـــــــــه خپـــــــــل وطـــــــــن وي

یـــــــــه ســـــــــړیه ښـــــــــه یـــــــــې واوره
د درې دا ســـــــــــــــــکڼه خـــــــــــــــــاوره

(ځیګر خون: ص ۲۵۵)

دَ ایوب صابر دَ خپل قوم سره دَ مینې او قام پرستۍ حال دا دے چې هغهٔ خپله مینه هم پښتنه کړې ده. او دَ پښتنې محبوبې دَ حیا، تهذیب، پښتو او وفا ستائینه داسې کوي.

پښتنه ئې بده چاره د مغل کړې
چې راپورته کاندې سترګې نو وژل کړې

(ځيګر خون: ص ۱۳۰)

په ټلور کنجه دنيا کښې چرته نشته
کوم تهذيب دے پښتنې ستا په حيا کښې

(ځيګر خون: ص ۱۵۰)

زۀ په خپله مينه سر ته رسوومه
ننداره زما د مينې د کتو ته
که مې خوب ځي که خندا ځي که مې سر ځي
وا به نۀ ورمه اشنا اخر پښتو ده

(ځيګر خون: ص ۲۱۰)

د درغو څوګندونه ځه له کاندې
زۀ پښتون يمه خبره سپينه غواړم
د جفا غشي دې ځنګه راوريږي
ښۀ نادان يمه چې تا نه مينه غواړم

"اوچت مقصد" نومې نظم کښې دَ اعلى اقدارو، رواياتو، ننګ، ناموس، پت او پښتونولۍ سندرې وائي. دَ مظلوم دَ حمايت او دَ ظالم خلاف دَ اواز اوچتولو خبرې کوي . دَ دې مقصد دَ پاره کۀ سر، زر، مال، اولاد او جاه و جلال لاړ شي نو ځي دې خو چې پت، پښتو او دَ مېړنو پښتنو شان پاتې شي.

پت دې پاتې شي
پښتو دې شي محفوظه
نوم دې پاتې شي
وېنا
د ننګيالو دې شي محفوظه

شان دې پاتې شي
قيصه
د مېړنو دې شي محفوظه
(ځيگر خون: ص ۵۴)

دَ ايوب صابر پښتو ژبې سره ډېره مينه وه. ځکه چې دا ژبه دَ پښتون قوم شناخت دے. هغۀ همېشه دَ دې ژبې دَ ترقۍ او جائز مقام تر لاسه کولو دَ پاره هڅې کړې دي اوخپلې ژبې سره مينه او پت پالل دَ قوم پرستۍ دليل دے.

پــه مجلــس کښــې د يــارانو د خنــدا شــي
پــه جهــان کښــې د گــونگي غونــدې رسـوا شــي
د تــاريخ نـــه ثابــت شــوے حقيقـــت دے
خپلــه ژبــه چــې څــوک هېــره کــړي فنــا شــي

ښنگـــــه هېـــــره کـــــړم پښـــــتو زۀ
ښنگـــــه ځــــان خــــاورې ايـــرې کـــــړم
وســــــيله مـــــــې د عظمــــــت ده
خپلـــــه ژبـــــه ښنگـــــه پـــرې کـــــړم
يـــو اديـــب يـــم بيخـــي پـــاک لـــه تعصـــبه
احتـــــرام د هـــــرې ژبـــــې زۀ کوومـــــه
دا خبـــره هـــم د چـــا نـــه پټـــه نـــۀ ده
مـــــورنۍ ژبـــــه وي ډېـــــره محترمـــــه
(ځيگر خون: ص ۲۱۵)

خو پښتو!
زما شيرينې

چې ستا حق زما مرام دے
هغه ستا اوچت مقام دے
دا مرام چې حاصل نۀ وي
دامقام چې حاصل نۀ وي
ژبه ور نۀ یم ګونګې یم
د پردي فصل کښے یم
زما اصل فصل تۀ ئې
زما رنګ او نسل تۀ ئې
تۀ به کله ښېرازېږې
په نصاب کښې به کله شامېلېږې

(ځیګر خون: ص ۲۳۸)

دَ خپل وطن سره دَ میني جذبې هم دَ هغۀ په شاعرۍ کښې پرېوانه دي. او دا فطري جذبه دَ هر پښتون په زړۀ کښې وړانګې کوي. کله چې په وطن بد حالت راغلے دے نو دَ هغې غم ئې ژړلے دے. په ۱۹۲۵ء کښې چې کله دَ جنګ حالت وو په داسې حال کښې هغوي دَ وطن په مینه کښې بې مثاله شاعري کړې ده.

دا زمـــا تـــوره احتـــرام د پاکســـتان غـــواړي
دا چـــې بربنـــډه شـــي غلـــیم ورنـــه امـــان غـــواړي

(ځیګر خون: ص ۵۲)

د تقـــوىٰ لاپـــې عبـــث دي خـــو دا وایـــم
چـــې خپـــل ســـر بـــه کـــړم وطـــن بانـــدې فـــدا زۀ
کـــۀ بـــد هـــم یـــم د وطـــن پـــه مینـــه مســـت یـــم
ګرځومـــه ښـــۀ تېـــره تـــوره تـــر مـــلا زۀ
زۀ ســـوګند خورمـــه کـــه داســـې ســـاعت راغـــے
د وطـــن د غلـــیم وار بـــه کـــړم خطـــا زۀ

(ځیګر خون: ص ۵۷)

ســــــتا د خــــــاورې نـــــه لــــــوړې شـــــم
پــــــه دې خــــــاوره کېښــــــې ســــــرور د ے
ســــــتا جنـــــــډه ګرځــــــوم لاس کېښـــــــې
بېــــــداري لــــــرم احســــــاس کېښـــــــې
اے وطنـــــــــــــــه اے وطنـــــــــــــــــه
ســــــتا د خــــــاورې قــــــدردان یــــــم
اے چمنـــــــــــــــه اے چمنـــــــــــــــــه
ســــــتا بویونـــــــو نـــــــه قربـــــــان یـــــــم

(ځیګر خون : ص ۲۰)

چـــې قربـــان پـــه خپـــل وطـــن شـــي ځـــوان هغـــه
پـــه غـــزا کېښـــې چـــې حاصـــل شـــي شـــان هغـــه

(ځیګر خون: ص۲۲)

خـــدائیګو هغـــه لـــوپټې مـــې خوښـــې نـــۀ دي
چـــې لـــه کومـــو پرچمونـــه نـــۀ جـــوړیږي
یـــو شـــاعر یـــم پنګـــه نـــۀ لـــرم
د ځیګـــر وینـــه مـــې وقـــف کـــړه وطـــن تـــه

(ځیګر خون: ص ۱۵۵)

د ازاد او د خپلـــــواک ژونـــــدون د پـــــاره
ارمیږونـــه خـــو مـــاتیږي ځـــئ چـــې ځـــو
غلیمـــان کـــه هـــرې غـــاړې تـــه رامـــات شـــي
شـــین بېـــرغ بـــه نـــۀ ټیټیـــږي زۀ چـــې ځـــو

(ځیګر خون: ص ۲۷۸)

"دَ یو مړي فریاد" نظم چې په ۱۹۲۵ء کښې ئې لیکلے دے دَ عظم، جرات او استقلال مثالي نمونه ده. دَ حالاتو دَ مقابلې او دَ ترقۍ په لور دَ یون سبق ورکوي.

اے زما د وطن خاورې
دا تیارې چې ازلي دي
دا تیارې چې له مهد نه
تر لهد پورې راغلې
تر ابده خو به نۀ وي
(ځیگر خون: ص ۱۸۳)

په خولۀ مې دي د خوار اولس
خبرې
بیا لیکمه زۀ د خپل وطن
سندرې
(ځیگر خون: ص ۱۰۰)

"نوے ساز نوے اواز" نومې نظم کښې چې هغوي دَ ۱۹۲۵ء دَ جنګ دَ تاثر لاندې ئې لیکلے دے او وطن سره چې دَ مینې لړزېدلې جذبې او اظهار لري. څۀ نمونه ئې دا ده.

خوا خوږو هر څه درکولے شم
لیکلے شمه
خو بس یو شرط دے پکښې
او هغه دا دے چې تر څو د
پاکستان دښمنان
خدائے شرمولي نۀ وي
او د وطن د پاک سرحد نه
لرې
مونږ تښتولي نۀ وي

یا مونږ کښې هر سړي په
خپلې ګرمې ګرمې وینې
ځان لمبولے نۀ وي
زۀ به تر هغه وخته پورې په
خپل هر غزل کښې
ملګرو مینه د وطن ځائیوم
یارانو زۀ به د غزل په ژبه
د خپل وطن د هر تورزن
سپائي ستائینه کوم
(ځیګر خون: ص ۷۴، ۷۵)

دَ صابر صیب په زړۀ کښې دَ قام او ملک سره سره دَ ملت او دَ کلهم انسانیت دَ پاره دَ خواخوږۍ او همدردۍ دَ اخلاص نه ډکې جذبې وې. هغه نۀ صرف دَ انسان بلکې په همه مخلوق دړدیږي.

حُسن یو خدائے او یو رسول او یو قرآن ته وائي
عشق د صابر غوندې ریښتوني مسلمان نوم دے
(ځیګر خون : ص ۲۲۸)

نـــــۀ بـــــه خـــــوب کـــــړم نـــــۀ ارام
چــــې وانــــــۀ خلــــــم انتقــــــام
لـــــه هغــــــو چـــــې پېرنګیـــــان دي
لـــــه هغـــــو چـــــې غاصـــــبان دي
لـــــه هغـــــو چـــــې کـــــافران دي
د اســـــــلام چـــــــې دښـــــمنان دي
(ځیګر خون: ص ۲۵۴)

زۀ شاعر یم

مهذب یم
یو مېږي هم چې مړ ووینم
لړزېږم
یو چینجے هم چې څوک ژوبل
کړي
کړېږم
غم زما وي که د بل چا
پرې دردږېږم
ظلم خپل کړي که پردي کړي
پرې شرمېږم
(ځیګر خون: ص ۱۹۷)

ایوب صابر بنیادي طور پښتون قام پرست شاعر دے او دَ پښتون اولس دَ ننګ، غېرت، مړاني او تُوري خبرې کوي. په دې فخر کوي چې دَ پښتون قبیلې غړے دے. دَ هغهٔ په شاعرۍ کښې چې دَ ملک او وطن دَ پاره دَ مینې، غېرت او قربانۍ احساس دے. نو دا خو دَ هر پښتون فطري جذبه ده. پښتانهٔ دَ قوم په حېث مسلمانان دي او عالم اسلام او مسلمانانو سره دَ مینې او ښېګړې تاندې جذبې او دَ قربانۍ حوصلې لري.

دَ هغهٔ په ځیګرخون کښې چې دَ وطن دَ پاره دَ اخلاص او قربانۍ کومې دَ ننګ نه ډکې جذبې لري. دا شاعري هغوي دَ ۱۹۲۵ء دَ جنګ او هنګامي حالاتو کښې کړې ده . دغه وخت دَ ټول وطن نر، ښځې دَ دغه قسمه جذبو،ولولو او قربانۍ نمونې دي. دا وجه ده چې یو دَ وطن او بل دَ دین خبره وه. خپل وطن سره دچا مینه نهٔ وي خو عام حالاتوکښې ایوب صابر دَ خپل قوم او ژبې اواز پورته کړے دے. او په شعوري توګه ئې خپلې شاعرۍ کښې دا حقیقت په ګوته کړے دے. چې پښتون قوم دَ خپلو اقدارو، روایاتو، تهذیب او ثقافت په لړ کښې ځانګړې حېثیت لري. او دَ هغوي ژبه دَ هغوي دَ ژوند او کردار آئین

دے او دَ دې غوښتنه ئې همېشه کړې ده . چې دې قوم او ژبې ته دې خپل شناخت او مقام ورکړے شي. دَ مکتب او ادب ژبه دې شي. نو په دې حواله صابر صېب بېخي قوم پرست شاعر دے.

# حوالې


[۱] David L . sills, international encyclopedia of social sciences, Volume ۱۱, Newyork ۱۹۷۲, page ۸

[۲] انسائیکلو پیډیا ، تحریک پاکستان، اسد سلیم شیخ، لاهور سنګ میل پبلیکیشنز ۱۹۹۹ء

[۳] استالن، قوم اور قومیت،لاهور، مکتبه فکر و دانش، د چاپ کال نهٔ لري ص :

[۴] کوثر، حسین بخش، د قومیت فلسفه ، کال نهٔ لري، ص ۵

[۵] شنواري، امیر حمزه، ژوند ، پېښور ، جدون پرنټنګ پریس، کال نهٔ لري، ص :۷۵

[۶] القرآن، سورة النحل، آیت : ۹۰

[۷] القرآن، سورة البقره ، ایت : ۲۱۵

[۸] القرآن، سورة الاسرا ، آیت: ۲۲

[۹] الحدیث، نسائي، ابوداؤد ، ترمیذی، بحواله اسلام کا نظریه کسب و اتفاق، حکیم محمد اسحاق، لاهو، شرکت پرنټنګ پریس، ۱۹۸۱، ص ۱۱۴

[۱۰] مودودی، ابوالاعلی، مسئله قومیت، لاهور، اسلامک پبلی‌کیشنز، اشاعت ششم، ۱۹۲۷ء ، ص ۳۲

[۱۱] کتاب الخراج، بحواله مولانا حفظ الرحمان، سیوهاروي، اسلام کا اقتصادي نظام، ملتان، مکتبه امدادیه، س ن ، ص ۱۳۸ ، ۱۳۹

[۱۲] القرآن، سوره ابراهیم، آیت : ۴

[۱۳] ایوب، صابر، ځیګر خون، سریزه قلندر مومند ، دریم چاپ، د اماراتو پښتو ادبي ټولنه مرکز دوبۍ، ص ۱۳